دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

دا د آخرت کور مونږ یوازې هغو خلکو ته ورکوو چې په ځمکه کې د لوبې او فساد هڅې نه کوي. او آخرنۍ برې د پرهیزګارانو په برخه دی. څوک چې له نیکیو سره راشي بدل به یې لا ښه ورکړای شي او څوک چې له بدۍ سره راشي نو بدکارو ته یوازې دهغوی د کړنو بدله ورکول کېږي. (سورة القصص: ۸۳ - ۸۴ آیتونه)

درس حدیث

از انس (رض) روایت است که نبي اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمود: «کسی که این سه خصلت را داشته باشد، شیرینی ایمان را می چشد. یکی اینکه: الله و رسولش را از همه بیشتر دوست داشته باشد. دوم اینکه: محبتش با هر کس، بخاطر خوشنودی الله باشد. سوم اینکه: برگشتن به سوی کفر، برایش مانند رفتن در آتش، ناګوار باشد». (صحیح بخاری)

شهادت څلورم کال، ۳۱ مه ګڼه، پرله پسې ۱۸۲ مه ګڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د لیندۍ لومړۍ د۱۴۳۳ هـ ق د محرم الحرام ۷ مه د۲۰۱۲ م د نوامبر ۲۱ مه

د کابل او واشنګټن تر منځ امنیتي تړون له ننګونو سره مخ شوی

شپنې عملیات او د بګرام زندان د افغاني کېدو په اړه هوکړې له امریکا سره شوي خو ښکاري چې امریکا په خپلو ژمنو ولاړه نه ده او د افغان حکومت خبرداری یې هم بابیزه ګڼلی دی

کابل، رسنۍ:
د کابل او واشنګټن ترمنځ امنیتي قرارداد چې پرې په پلازمینه کې خبرې روانې وې له نویو ننګونو سره مخامخ شوی دی.
پر دغه تړون باندې له څه باندې یوې میاشتې راهیسې کار روان دی لیکن یو لړ نوي ستونزې رامخې ته شوي چې د اړګ چارواکي یې دې ته اړ ایستلي څو د تړون د لاسلیک دمخه امریکا خپلې هغه ژمنې پلې کړي چې له افغان حکومت سره یې کړي دي.
په دغو ژمنو کې یوه هم د بګرام

پاتې ۴ مخ

ماموریت حربی فرانسه رسماً در افغانستان خاتمه یافت

کابل، رسانه ها:
فرانسه ماموریت حربی خود را روز سه شنبه رسماً در افغانستان خاتمه داده و عساکر خود را از ولایت کاپیسا خارج کرد.
فرانسه که بیش از سه هزار عسکر در افغانستان داشت، اکنون در نظر دارد که ۱۵۰۰ آن را تا اواسط سال ۲۰۱۳ در افغانستان حفظ می کند تا در تعلیم و تربیه و تجهیز قوای افغان کمک کنند.
فرانسه بعد از حملات تروریستی ۱۱ سپتمبر سال ۲۰۰۱ در ایتلاف ضد القاعده همراه شده و قوای آن به افغانستان آمدند.
به نوشته خبر گزاری فرانسه، آخرین گروه عساکر این کشور که تعداد آنها ۴۰۰ نفر بود ساعت ۱۰ صبح امروز سه شنبه طی مراسم خاص ولایت کاپیسا را ترک کردند.
فرانسه از نګاه تعداد عساکر پنجمین کشور بزرگ می باشد که در افغانستان حضور دارد و تا حال ۸۸ عسکر آن در اینجا کشته شده اند.
بیشترین تلفات این عساکر در ولایت کاپیسا رخداده است. قوای فرانسه در سال ۲۰۰۸ به کاپیسا رفتند و برخورد با طالبان گسترش پیدا کرد.

بقیه در صفحه ۴

محمد افضل خان لالا جمهور رئیس ته د تروریزم او افراطیت د له منځه وړلو لپاره د ګډې غونډې وړاندیز وکړ



که د ډیورنډ کرښې له دواړو خواوو څخه د ولسونو یوه ګډه غونډه جوړه شي، ترډېره حده به ددې ستونزې مخه ونیول شي

ګران افغانستان:
د پښتنو ملي مشر محمد افضل خان لالا د هغه لیکونو په ځواب کې چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت جمهور رئیس حامد کرزي لخوا ده او د پاکستان نورو سیاسي او مذهبي مشرانو ته، د تروریزم او افراطیت پر خلاف د عملي او جدي ګډې مبارزې د همکارۍ او دغه راز پر ملاله یوسفزۍ د تروریستي برید د غندلو لپاره لېږل شوي وو، لیک را استولی دی.

پاتې ۴ مخ

مشرانو جرگه طرح قانون تشکیل و صلاحیت های کمسیون انتخابات را تصویب کرد

کابل، رسانه ها:
مشرانو جرگهء افغانستان پس از چند روز بحث، طرح قانون تشکیل و صلاحیت های کمسیون مستقل انتخابات را تصویب کرد.
مشرانو جرگه پس از بحث های گسترده مسوده قانون تشکیل صلاحیت های کمسیون مستقل انتخابات را تصویب کرد.

بقیه در صفحه ۴

چهار شهید در هفتمین روز حمله به غزه، شمار شهدا به ۱۱۳ نفر رسید

PROPERTY OF ACKU

خبر گزاری سما:
جنگنده‌های رژیم صهیونیستی در هفتمین روز حمله به نوار غزه ۴ شهروند فلسطینی از جمله یک کودک را به شهادت رسانده و چند نفر دیگر را زخمی کردند.

بقیه در صفحه ۴

۳ میلیارده ډالره په جعلي اسنادو له افغانستانه ایستل شوي دي

"متوجه شو، چې یوه اوونۍ مخکې، ډېرې پیسې د بانکونو له لارې بهر ته لیږدول کیږي.

کابل، رسنۍ:
افغانستان بانک وايي، یو مسلکي کاري ټیم یې ټاکلی، څو هغه اسناد وڅیړي چې پر اساس یې له هیواد څخه درې میلیارده ډالر بهر ته ایستل شوي دي.
راپورونه وايي، په دې وروستیو کې له هیواد څخه یوه زیاته اندازه ډالر ایستل شوي دي.
د افغانستان بانک رییس نوراله دلاوري د سې شنبې په ورځ له ازادي سره په ځانګړې مرکه کې وویل؛ دا پیسې یوشمېر صرافانو په ذریعه بهر ته ایستل دي:

پاتې ۴ مخ

امریکا د نړۍ ۱۵۱هېوادونوکې پوځي اډې او تم ځایونه لري

د افغان دولت له لورې پداسې حال کې د امریکایي خواکونو قضایي مصوونیت په مشروط ډول منل کېږي، چې له یوه لورې د خپلواکۍ او ملي حاکمیت ادعا کوي او له بل لورې امریکا دافغانستان په وړاندې خپلو ژمنو اوتړونونه ته ژمنه نده پاتې شوې

دویم مخ

مشرف صیب! دا د چا ګناه ده ؟!

عبیدالله (صافی)

په داسې حال کې چې په ۲۰۱۴ کال کې امریکایي او ناټو ځواکونه له افغانستانه اوځي د پاکستان پخوانی ولسمشر د هند د نفوذ پر وړاندې خبرداری ورکړی دی او په هند کې یوې غونډې ته د وینا پر مهال خبرداری ورکړی چې هند باید د پاکستان ضد افغانستان درامنځته کولو له هڅو څخه لاس په سر شي، هغه تجویز وړاندې کړ چې هند او پاکستان باید په افغانستان کې خپله نیابتي جګړه پای ته ورسوي، افغانستان زموږ لویدیځ ګاونډې دی له دې امله دا زموږ لپاره حساسه موضوع ده، نوموړي وویل ددې پر ځای چې پاکستان او هند په افغانستان کې نیابتي جګړه وکړي ښه به دا وي چې دواړه هېوادونه په افغانستان کې د یو پیاوړي حکومت د

پاتې دریم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

امریکا دې د اسرائیلو د ملاتړ پرځای دحق مرسته وکړي

له امریکا سره د نړۍ د زیاترو مسلمانانو کرکه له هغې ورځې زور اخیستې چې امریکا په فلسطیني خاوره کې د یو اسرائیلي حکومت دقیام لپاره د اسرائیلو ملاتړ وکړ. نه یواځې دا چې هلته د یهودو مستقل هېواد یې جوړ کړ بلکې په هره روا او ناروا کړنو کې دهغوی ښکاره مرسته هم وکړ، بیت المقدس چې د مسلمانانو متفقه لومړنی قبله وه یهودانو وربانډې ناوړه قبضه وکړه مسلمانان یې په هغه کې د عبادت او لمونځ کولو څخه منع کړل او څو څو ځلې یې وربانډې مرګوني یرغلونه وکړل او سلګونه مسلمانان یې ووژل.

د فلسطینیانو خاوره یې په پرله پسې ډول ونیوله، کلي او کورونه یې ویجاړ او پرځای یې یهودانو لپاره لوی لوی ښارونه جوړ کړل، نه یواځې د فلسطینیانو پر خاوره یې قبضه وکړه بلکې د شام ګولان غرونه او داردن ځینې سیمې یې هم تر خپلې قبضې لاندې راوستلې، هغو یهودانو چې په زوره د فلسطین په خاوره د قبضې په صورت کې یو ناجائز حکومت جوړ کړ د امریکا او نورو غربي هېوادو په ملاتړ د یو مستقل هېواد په نوم وپېژندل شو خو د فلسطیني ولس یو جائز او روا حکومت چې پخپله خاوره کې درلوده او یهودي غاصبینو پرخلاف یې خپل روا جدو جهد کاو امریکا او نورو ډېرو غربي هېوادو په رسمیت ونه پېژند، د غاصبو یهودانو حکومت چې د فلسطینیانو په خاوره په زوره جوړ شوې و جائز او د فلسطینیانو حکومت چې پخپله خاوره کې جوړ شوې و ناجائز وګڼل شو. د فلسطین پر خاوره د یهودانو پرله پسې ولقه او یرغل قانوني، او د فلسطینیانو جائزه دفاع ته د ترهګرۍ نوم ورکړی شوه، له اسرائیل سره د امریکا کلک ملاتړ او پوځي ډګر کې دهغوی غښتلې کول ددې باعث شو چې د ګردې نړۍ د ګڼو مسلمانانو په زړونو کې د امریکا او اسرائیل په خلاف د کرکې او نفرت توپاني څپې اوچتې شوې او امریکایي د اسرائیلو سرپرست په توګه وپېژندل شوه، همدا لامل و چې د امریکا او د مسلمانې نړۍ دهغو حکومتي چارواکو په خلاف چې له امریکا سره یې نږدې اړیکې درلودلې د القاعدې په څېر د یو منظم تنظیم ډېره کېښودل شوه او د نړۍ په ګڼو هېوادو کې وسله وال اخ و ډب پیل شو، خانمرګي بریدونو زور واخیست او د نړۍ امن له ګواښ سره مخامخ شو د تېرو دولسو - دیارلسو کلو راپدېخوا چې د نړۍ په زیاترو هېوادو کې وسله وال جنګونه موټر بمونه او خانمرګي بریدونه تر سترګو کېږي ددې لوی لامل په فلسطین او د نړۍ په ځینو کفري هېوادو کې د مسلمانانو په خلاف د کفارو له خوا د ظلم، بربریت او ناانصافي هغه غیر انساني ناروا کړنې دي چې په مسلسل ډول په دوامداره توګه جریان لري.

څه دپاسه د شپږو لسیزو راپدېخوا چې د امریکا او ځینو نورو کفري نړۍ په ملاتړ صهیونستانو په فلسطین کې د وژنو، څورونو، شکنجو او نورو غیر انساني کړنو له وحشت نه ډکه کومه لوبه پیل کړې ده دا د انساني تاریخ تر ټولو لویه او اوږده غمیزه ده، څرګنده خبره ده چې له غوښې نه جوړ شوې انسان کله هم د دومره پراخ ظلم او بربریت په وړاندې صبر نه شي کولی او خامخا له دې نه د خلاصون په خاطر تر خپل آخري توانه هلې ځلې کوي. تر څو پورې چې د اسرائیلو د ټوپک شپېلې د فلسطین ولس ژوند ګواښي او دهغوی مقبوضه خاوره یې تخلیه کړې نه وي فلسطینیان فطري او قانوني حق لري چې د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو لپاره خپل جدو جهد جاري وساتي د بین المللي قانون له مخې ددې مسئلې حل دا نه دی چې فلسطینیان له خپلې خاورې او خپل استقلال نه لاس په سر او د یهودو په وړاندې د تسلیمۍ سر کېږدي خو ډېر افسوس چې د امریکا په څېر یو داسې هېواد چې تل د بشر د حقوقو ترانې وایي پر فلسطیني ولس مسلسل فشار راوړي چې له خپل روا حقوق نه لاس په سر او د غاصبو اسرائیلو په وړاندې د تسلیمۍ غاړه کېږدي چې ددې خبرې تازه ثبوت د اوباما هغه تازه څرګندونې دي چې تېره ورځ نیتن یاهو ته په تیلفوني خبرو کې داډ ورکړ چې امریکا په دې جنګ کې له تاسو سره ده. تجربو دا ثابته کړې چې فلسطیني ولس هر ډول سربښندنو او کړاوونو زغملو ته خو تیار دی مګر د اسرائیلو غاصب رژیم په وړاندې هېڅ راز انعطاف ته زړه نه شي ښه کولی.

دې لپاره چې نړیوال امن نور خراب نه شي او انسانیت د امن او اطمینان په فضاء کې آرام ژوند وکړي ددې خبرې ضرورت دی چې امریکا او ځینې نور غربي هېوادونه د اسرائیلو د ملاتړ پرځای دحق او انصاف مرسته وکړي، پر اسرائیل فشار واچوي چې د فلسطین مقبوضه خاوره تخلیه او د پراختیا غوښتنې له ظالمانه پالیسی نه لاس په سر شي، له څه شک پرته په یقیني ډول ویلې شوو چې کله هم امریکا د فلسطین په شخړه کې خپل منصفانه رول ولوبوي او د سرائیلو د ناروا ملاتړ پرځای د حق ملګرتیا وکړي نو نه یواځې دا چې دغه اوږده جګړه به پای ته ورسېږي بلکې د نړۍ امن به هم تر ډېره بریده ښه شي، ځکه چې امن د ظلم له لارې نه، بلکې د انصاف او حق ته د تسلیمېدو له لارې یقیني کېدلی شي.

امریکا د نړۍ ۱۵۱ هېوادونو کې پوځي اډې او تم ځایونه لري

امریکا د نړۍ په ۱۵۱ هېوادونو کې پوځي اډې او پوځي تمځایونه لري، چې مهمې اډې یې په لاندې ډول دي:

د اروپا قوماندانۍ –اشتوتګارتک د ۱۳ملیونه مایل مربع په پراخوالي سره له ناروې څخه د بالکان تر سیمو او له منځنې ختیځ څخه د سوېلي افریقا تر کیپګوډ هوپ سیمې پورې ۸۹ هېوادونه تر هوایي او ځمکنۍ پوښښ لاندې لري

د آلمان په ګرافن واهور Grafenwoehrښار کې د اووم پوځ ښوونیز مرکز او او د سلمې ډلې ملاتړ مرکز

د پانامه د فورټ کلېتون Fort Claytonپه ښار کې د تمرین مرکز

په اروپا کې د سمندري ځواکونو مرکز د ۱۰۰ ملیونه مایل مربع په پراخوالي سره، چې ۲۰۰ بېړۍ او ۲۵۰ زره مانوګان پکې مېشت دي

د آیسلند په کیفلاویک کې د سمندري ځواکونو هوایي مرکزی

د ایټالیا په ناپلس ښار کې سمندري ملاتړي مرکز.

د هسپانیا په جبل الطارق تنګي کې سمندري مرکز

په جاپان کې د هوایي ځواکونو عملیاتي اډه

په ایټالیا کې د سیګونېلا هوایي اډه، چې دغه اډه په مدیترانه کې د ځانګړو عملیاتو مرکز دی.

په بوسنیا کې د توزلا هوایي اډه

د ترکیې په سوېل کې د انسیرلیک Incirlikهوایي اډه

د جاپان په اوکیناوا Okinawa کې د کادینا Kadena هوایي اډه

د جاپان د هونسوی Honsyu په ټاپو کې د میساوا Misawa هوایي اډه

د توکیو په ۲۸ مایلې کې د یوکوټا Yokotaهوایي اډه

د هیروشیما په ۴۵ مایلي کې د USMC Air Station Iwakuniهوایي اډه

د سوېلي کوریا د پلازمېنې سیول په ۱۵ مایلي کې د کیوسان Kusan هوایي اډه

په سوېلي کوریا کې د اوسان Osan هوایي اډه

په آلمان کې رامسټین Ramstein هوایي اډه

په مجارستان کې د تزار Taszar هوایي اډه

همداراز امریکا په ترکیه، قرغیزستان، آذربایجان، ګرجستان، ارمنستان، بحرین، د عربو متحده امارات، سعودي عربستان، عمان، کوېټ او د هند په سمندر کې هم پوځي اډې لري.

د یادو هېوادونو ترڅنګ په سیمه کې د افغانستان جیوپولیټک او ستراتیژیک موقعیت ته په پام سره امریکا پتیلې ده، چې په افغانستان کې هم پوځي اډې ولري، څو وکولای شي په سیمه کې خپلې موخې تر لاسه کړي.

د شوروي له ماتې وروسته امریکا په نړۍ کې خپلې خورې ورې اډې را ټولې نه کړې؛ بلکې موخې یې ورته بدلې او لا یې هم زیاتې کړې.

د څو لاملونو ترڅنګ د منځنۍ آسیا طبیعي سرچینې بل مهم لامل شو، چې ا مریکا دې، دې سیمې ته ډېر پام واړوي. دا هم شونې ده، چې د امریکا یوه موخه دا وي، چې دلته د سیمې اقتصادي هېوادونه و وېروي او د هغو پام د اقتصادي پرمختګ پر ځای نظامي هڅو ته کړي او پدې توګه یې په اقتصادي برخه کې د ګړندي پرمختګ مخه ونیسي. امریکا د دې اډو له لارې غواړي، چې په سیمه کې وسله وال کړکېچ جوړ او خپلو وسلو ته بازار ومومي.

د منځنۍ آسیا په وچه محاط هېوادونه هڅه کوي، چې خپلې زېرمې بهرنۍ نړۍ ته صادرې کړي؛ خو اوس د نفتو د لېږد لپاره له پایپ لاین پرته بله آسانه لار نه لري. د پایپ لاین له لارې د نفتو لېږد خو هند، چین او پاکستان ته آسانه او ارزانه دی؛ خو د امریکا لپاره سخت او آن ناشونی دی.

چین هڅه کوي، چې دا زېرمې خپلې کړي. دا کار چین ته آسانه دی؛ ځکه چین د دې سیمې له هېوادونو سره سیمه ییز ګاونډیتوب او آن له تاجکستان سره ګډه پوله هم لري او که چین دې موخې ته ورسېږي، نو له شک پرته لکه برژیسنکي یې، چې وایي د نړۍ لوی اقتصادي ځواک او پاچا به شي.

امریکا به د افغانستان او منځنۍ آسیا طبیعي زېرمې، چې زرګونه ټریلیونه ډالره بیه لري پخپله ګټه وکاوري او د دې زېرمو د انتقال لپاره له افغانستان پرته بله لنډه او آسانه لاره نشته.

د کابل واشنګټن ترمنځ امنیتي سند کې د امریکا لپاره تر ټولو ستره ستونزه د افغان دولت له لوري د امریکایي ځواکونو د کاپیتولاسیون نه منل دي.

ولسمشر حامد کرزي د ناټو له عمومي منشي اندرس فوګ راسموسن سره په کابل کې د خپلې وروستۍ لیدنې پر مهال وویل، چې که جګړه او بې امنیتي په افغانستان کې دوام وکړي، د هېواد سرحدونه خوندي نشي او له قانوني او عدلي تعقیب څخه د نړۍوالو سرتېرو مصوونیت د ټولو مسایلو په سر کې یادېږي، نو د افغانستان خلک به خپل حکومت ته اجازه ورنکړي، چې بهرنیو سرتېرو ته مصوونیت ورکړي.

په نړۍوالو حقوقو کې تړونونه د ماهیت له پلوه په سیاسي او اقتصادي، مساوي او نامساوي حقوقي تړونونو وېشل کېږي.

نامساوي تړونونه د نړۍوالو موافقتپاڼو په خلاف دي، کله، چې په اقتصادي سیاسي طرفونو کې په حقوقو او وجایبو کې عدم مساوات وي، دا تړونونه به له منځه ځي. د دغه نا مساوي تړونونو ښېلګې لکه د کاپیتولاسیون تړونونه دي. په عمومي توګه نا مساوي تړونونه لوی استعماري او امپریالیستي هېوادونه له کوچنیو او کمزورو هېوادونو سره لاسلیک کوي. د مثال په ډول د استعمارګرو له لوري د مستعمره شویو یا له هغه کمزوریو هېوادونو سره، چې نوي خپلواکۍ ته رسېدلي وي ترمنځ تړونونه.

د افغان دولت له لوري پداسې حال کې د امریکایي ځواکونو قضایي مصوونیت په مشروط ډول منل کېږي، چې له یوه لوري د خپلواکۍ او ملي حاکمیت ادعا کوي او له بل لوري امریکا د افغانستان په وړاندې خپلو ژمنو او تړونونو ته ژمنه نده پاتې شوې، چې ښه بېلګه یې د امریکا له لوري د افغانستان او امریکا ترمنځ د ستراتیژیکو همکاریو سند نقضول دي.

د امریکا او افغانستان ترمنځ د ستراتیژیکو همکاریو سند د لومړۍ برخې په وروستي پراګراف کې راغلي دي: "ملي حاکمیت ته درناوی او د دولتونو برابري د دې همکاریو بنیاد جوړوي. د قانون حاکمیت ته درناوي او همدارنګه د افغانستان د اساسي قانونو او نورو ټولو قوانینو صریح او څرګند رعایت د دې همکاریو بنسټونو ته قوت ښښي. دواړه لوري د افغانستان د ملي حاکمیت، استقلال، ارضي تمامیت او ملي وحدت خوندي تابه په وړاندې پر خپل پیاوړي تعهد تاکید کوي".

د ستراتیژیکو همکاریو سند له لاسلیک څخه وړاندې افغان لوري د بهرنیو او په ځانګړي توګه امریکایي ځواکونو لخوا د شپنیو عملیاتو بندېدل د سند لاسلیک لپاره اړین بللي ول، چې د افغان دولت په باور دغه موضوع د هېواد ملي حاکمیت پورې تړاو لري. د یاد سند له لاسلیک څخه وړاندې د شپنیو عملیاتو بندېدل او افغان دولت ته د ټولو بندخونو د چارو سپارلو په برخه کې د امریکا له لوري ژمنه وشوه؛ خو لیدل کېږي، چې تر دې مهاله د باګرام بندخونې سترې برخې په ګډون د ګڼو زندانونو چارې اوس هم له امریکایي ځواکونو سره دي او د دغو ځواکونو شپني عملیات هم دوام لري، چې له امله یې ګڼشمېر بې ګناه هېوادوال وژل کېږي.

همدا راز امریکا د ډیورند له پولې هاخوا پر افغانستان د پاکستاني پوځیانو بریدونو پر وړاندې چوپه خوله پاتې شوه او حتی د دغو بریدونو تر سره کېدل یې هم و نه منل.

دا ځل به هم امریکا له افغان دولت سره ژمنه کوي، چې امنیت ټینګوي، افغان ځواکونه به په پرمختللو وسلو سمبالوي او د افغانستان له پولو څخه به ساتنه کوي؛ خو هغه مهال، چې د کابل واشنګټن ترمنځ امنیتي سند لاسلیک شو، نو امریکا به یو ځل بیا د سند ډېری برخې تر پښو لاندې کړي او یوازې به د خپلو موخو تر لاسه کولو په لټه کې شي. لدې امله افغان دولت ته لازمه ده، چې په لومړي سر کې د امریکایي ځواکونو قضایي مصوونیت و نه مني او که چېرې مني یې، نو د ترکیې په څېر داسې شرایط دې وړاندې کړي، چې له مخې یې وکولای شي په رښتیني توګه ملي حاکمیت ټینګ کړي.

مشرف صیب!

دا د چا ګناه ده ؟!

(د لومړي مخ پاتې برخه)

...رامنځته کېدو په برخه کې ګډ کار وکړي.

پرویز مشرف چې په هندوستان کې کومې څرګندونې کړي دي د مشورې تر کچه خورا ښې څرګندونې دي خو ستر مشکل دادی چې ټول عمر په غونډو او ناستو کې هر چا ښې مشورې ورکړي دي مګر د عمل په ډګر کې هغه څه نه دي لیدل شوي دڅه چې مشوره ورکول شوې.

د افغانستان مسلمان د ګاونډیانو حقوق هم پیژني او له هغوی سره ښې اړیکې ټینګول هم.

له دې واقعیت نه بالکل انکار نه شي کیدلې چې د افغانانو په زړونو کې د ګاونډیانو، په ځانګړې ډول د پاکستان او ایران کومه مینه ده هغه بې سارې او بې مثاله ده، افغانان کله هم دا نه غواړي چې چاته خپله خاوره د ګاونډیانو په تاوان استعمالولو ته اجازه ورکړي، البته د بین المللي قانون په رڼا کې ددې ضرور حق لري چې د ګاونډیانو په شمول د نړۍ له هر هېواد سره ښې اړیکې ولري او له هغو هېوادونو سره راکړه ورکړه او تجارت وکړي چې د افغانستان د کمزور اقتصاد د پیاوړتیا باعث ګرځي، که څه هم افغانستان د دوستۍ او راکړې ورکړې په ډګر کې ګاونډیانو ته ترجیح ورکوي مګر په هغه صورت کې چې ګاونډیان د افغانانو د ضرورت له پوره کولو نه عاجز وي او یا هم د افغانستان په تاوان تمامېږي په سلو کې سل بشپړ حق لري چې د نړۍ له هر هېواد سره وغواړي تجارتي، پوځي، صنعتي، تعلیمي، زرعي، صحي او په نورو ډګرونو کې خپلې اړیکې ټینګې کړي.

په دې خبره هر څوک پوهېږي چې د ضروریاتو په رفع کولو کې تر ټولو آسانه، کم مصرفه او ارزانه لاره له ګاونډیانو سره د راکړې ورکړې او تجارت لاره ده، خو که ګاونډیان د ضروریاتو د رفع کولو څخه عاجز وي نو بیا له نورو هېوادونو سره له مجبوریته اړیکې نیول کېږي.

د پرویز مشرف دا وینا چې هند باید د پاکستان ضد افغانستان د رامنځته کولو له هڅو څخه لاس واخلي له اندېښنې پرته هېڅ حقیقت نه لري. یوازې هندوستان نه بلکې که د نړۍ هر هېواد د پاکستان ضد افغانستان د رامنځته کولو کوښښ وکړي افغانان به یې هرګز ونه مني. د افغانستان ولسمشر حامد کرزي څو څو واره خپلو ګاونډیانو ته ډاډ ورکړی چې هېچاته به اجازه ورنکړي چې د افغانستان خاوره دهغوی په خلاف استعماله کړي، آخر داسې یو هېواد چې ۳۲ کاله د جنګ په لمبو کې وریت شوې او د سوله ییز ژوند ارمانجن دي څنګه کولې شي چې هندوستان یا بل کوم هېواد ته خپله خاوره د ګاونډیانو د استعمالولو لپاره اجازه ورکړی او پخپل لاس د جنګ لمبو ته ودانګي؟ د افغانستان ګاونډیان ددې پر ځای چې د ملامتۍ ګوته افغانانو ته ونیسي باید خپلو ځانو ته ونیسي چې هغوی ولې له خپل جنګ ځپلي او تېږي تېږي ګاونډۍ افغانستان سره داسې سلوک کوي چې نورو هېوادو ته د پاکستان ضد افغانستان د رامنځته کولو فکر پیدا شي؟ !

د هندو ستان په څیر هېواد چې له پاکستان سره تاریخي دښمني لري افغانان څنګه کولې شي چې د هندوستان په خوله له پاکستان سره د هندوستان په ګټه د دښمنۍ ګام پورته کړي؟ متل دی چې د یو لاسه ټک نه خیژي که د افغانستان وګړي له پاکستان سره د دوستۍ څومره چیغې ووهي مګر تر څو چې پاکستان له افغانانو سره د متقابله احترام په بنسټ د دوستۍ، اخلاص او وروري لاسونه اوږد نه کړي د دوستي نیالګې نه شي زرغونیدلې.

ګاونډیان دې دا واقعیت ومني چې هغوی تل د افغانانو له مجبوریته ګټه اوچته کړې او اوس هم د پیشو موږک لوبه کوي، افغانانو چې ټول عمر د پردیو د غلامۍ له قبلولو څخه کلکه ډډه کړې او د یو خپلواک ژوند د تېرولو لپاره د نړۍ له لویو لویو خواکونو سره ډغرې وهلې دي د بل چا په اشاره له ګاونډیو او یا نورو هېوادو سره د دښمنۍ یا د دوستۍ اړیکې ټینګول له خپل غیرت نه لېرې بولي. اصلاً کار له افغانانو نه بلکې د ګاونډیانو خراب شوی دی همغوی تل دا هڅه کړې چې افغانستان د خپلو ګټو او موخو لپاره استعمال کړي د همغوی ددغو غلطو پالیسیو له کبله افغانستان د رقابتونو ډګر ګرځیدلې دی، که چېرته ګاونډیان له څه لالچ او تمې پرته د یو مسلمان ګاونډي په توګه افغانانو ته د وروري لاسونه وراوږد کړي نو له څه شک پرته ویلې شو چې د ګاونډیانو دغه تشویش چې ګڼي د پاکستان ضد افغانستان به منځ ته راشي پخپله به ختم شي او له ګاونډیانو سره به د افغانانو دوستي تل پاتې او همیشنۍ وي.

چې څه کرې هغه به ریبې!

محمد خلیل

چې څه کرې هغه به ریبې، دا یو داسې متل دی چې زموږ پښتانه ورونه یې پخپلو خبرو کې خورا ډېر استعمالوي، خو له بده مرغه په عملي ژوند کې له دغه متل نه په ډېره لویه فاصله کې پراته دي، او ددغه متل برعکس نتیجه غواړي، په متل کې خو دا حقیقت په ګوته کړې شوې چې که څوک نیکې کړنې ترسره کوي نو دهغې ښه میوه به ترلاسه کوي او که څوک بده کړنه کوي نو له بده نتیجه او بد عواقب سره به لاس او ګریوان کېږي، مطلب دا چې هر څوک د خپلو لاسونو محصولات ترلاسه کوي.

که د یو هېواد وګړي پرمختللی ژوند، ښه اقتصاد، ښه حکومت او ښه نظام غواړي نو دا ددوی د کړنو او اعمالو پورې منحصره ده څومره چې کړنې او عملونه یې ښه کېږي هومره د ټولنې په وضع کې هم ښه والې تر سترګو کېږي او څومره چې عملونه یې خرابېږي هومره په ټولنه کې هم د بدوالي آثار خپلې تورې وزرې غوړوي.

موږ افغانان د پوهې او تجربې باوجود بیا هم لګیا یو هغه کړنې او عملونه ترسره کوو چې په سلو کې سل له منفي نتیجې پرته بل هېڅ ګټه نه لري خو بیا هم پخپلو خبرو، لیکنو او مرکو کې د ښه ژوند چیغې وهو او هر یو همدا خبره کوو چې افغانان باید ترقي وکړي، ښه ژوند او ښه مستقبل ولري، ښه اقتصاد او ښه امنیت ولري، ښه تعلیم او ښه نظام ولري، مګر دا له یاده وباسو چې دا هر څه زموږ له کړنو او عملونو سره تړاو لري، که ښه ژوند او ښه اقتصاد غواړو نو ښې کړنې او عملونه به ترسره کوو، له خپل نفس سره به جهاد کوو، له هر ډول ناروا، حرام او مکروه کړنو څخه به په کلکه ډډه کوو، له رشوت، خیانت، تګي، غلا، بې عدالتي، غصب، چور چپاول، اقربا پروري او قوم پرستي څخه به د خنزیر د غوښې په څېر پرهیز کوو، خپله خاوره به پخپلو خولو او وینو خړوبوو، له بې اتفاقي، ځان غوښتنې او لوېې غوښتنې څخه به لاس په سر کېږو یو بل ته به د وروري او اخلاص لاسونه ورکوو، له ایثار، همدردي او عاطفې څخه به کار اخلو د خپل پالونکي ذات صحیح بندګي، د خپل رسول محمد صلی الله علیه وسلم رښتوني اطاعت، د خپل قانون بشپړ احترام او د خپل ولس مناسب خدمت به کوو.

کومو هېوادو چې پرمختګ کړې او ولسونه یې د ښه ژوند خاوندان شوي دي په دې کې سلو کې سل دهغه ځای د اوسېدونکو د محنت، خواري، اخلاص او ښو کړنو لاس دی، د کومو هېوادو ولسونو چې خواري او زحمت ویستلې، له قانون سره یې مینه کړې او د ژوند په ټولو برخو کې له دیانت او صداقت څخه کار اخیستې هغوی نن د پرمختګ او ترقی معراج ته رسیدلي، پر ځمکه، سمندر او فضا د هغوی حکمراني ده او د ژوند ټول خواږه دهغوی په برخه دي.

په دې دنیا کې الله تعالی د هېچا ښې کړنې نه ضایع کوي، مسلمان خو لا څه چې که له الله نه منکر او کافر هم ښه کار وکړي نو اجر یې ضرور په دې دنیا کې ورکوي، ځکه چې الله تعالی پخپلو بنده ګانو تیرې نه کوي. که الله تعالی د کافر، مشرک، دهري او بت پرست د ښو کارونو اجر په همدې دنیا کې ورکوي نو د مسلمانانو د نیکو کارونو اجر به څنګه ضایع کوي، لوی الله خو پخپل کتاب قرآن کریم کې د همدې خبرې وعده فرمایلې چې بیشکه الله تعالی د نیکانو اجر او ثواب نه ضایع کوي. مسلمانان چې څومره نیک عملونه کوي اجر او ثواب یې په دې دنیا کې هم ورکوي او هغې دنیا کې هم، د مثال په ډول که یو مسلمان پر ځمکه ونې بوټي کري نو په دې دنیا کې هم دهغه میوه ورکوي او په هغې دنیا کې هم له ثواب نه یې نه محروموي، همداسې د نورو ټولو نیکو عملونو مثال درواخله.

که الله تعالی د افغانانو خوشال ژوند او ترقي نه وای غوښتې نو بیا به یې له ډول ډول معدنیاتو څخه ډک هېواد ورته نه ورکاو، الله موږ ته هر څه راکړي دي خو موږ خپل ځانونه پخپله بدبخت کړي دي. الله موږ ته د کر کیلې لپاره ښې ځمکې او خړوبولو لپاره یې پریمانه اوبه راکړي دي، خو دا چې موږ ترېنه ګټه نه اوچتوو او د نورو هېوادو د وګړو په څېر محنت او مشقت نه کوو دا زموږ خپله ملامتي ده نه د بل چا، ځکه چې الله تعالی په سپېڅلی کتاب قرآنکریم کې په څرګندو ټکو کې ددې خبرې فیصله اورولې ده چې الله جل جلاله تر هغې د یو قوم حالت نه بدلوي تر څو پورې چې پخپله د بدلولو کوښښ ونه کړي اوس راځئ پخپله فکر وکړو چې زموږ د وروسته والي، غربت، فقر او نور ډول ډول ستونزو اصلي لاملونه څه دي؟

که موږ واقعاً خپلې کړنې د ضمیر په لابراتوار کې ټسټ کړو نو لازمي او حتمي نتیجه به یې همدا راووځي چې زموږ کړنې او عملونه ناروغه، او دهغه څه جوګه نه دي چې هېواد ته ترقي، وده او خوشحالي ورکړي، لکه څنګه چې د زړه په ناروغۍ اخته یو انسان د صحت او روغتیا له ټولو نعمتونو څخه محروم وي همداسې د عملونو په ناروغۍ کې د اخته ولسونو هېوادونه له پرمختګ او خوشالي نه محروم وي، زموږ هېواد او خاوره به هله سمسور او د پرمختګ له نعمت نه برخمن شي چې زموږ کړنې او عملونه نیک، صالح او له اخلاص نه ډک شي.

راځئ د روژې په دې مبارکه میاشت کې چې د تقوی او پرهیزګاري د ترلاسه کولو او له بدیو نه د توبې ویستلو میاشت ده له خپل پالونکي ذات سره کلکه ژمنه وکړو چې خپل هېواد ته پخپلو نیکو عملونو او په خپلو خواریو سره پرمختګ ورکوو، د اتفاق او یووالي په تغر کېنو، د عدل او انصاف لاره خپلوو، د خپل اسلامي قانون بشپړ احترام کوو او خپل ټول عملونه او کړنې د الهي قانون مطابق ترسره کوو. چې کله هم زموږ کړنې سمې او په ټولنه کې د نیکۍ او ښېګڼې فضا قائمه شي نو زموږ په ژوند کې به د پرمختګ او ترقي سپرلې به پخپله راځي.

افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

طالبانو په هرات کې تر اوسه ځانته د پښې د اېښودو ځای نه دی جوړ کړی

د نیویارک ټایمز ورځپاڼې د افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو د وتنې وروسته مودې په اړه د هرات د یو شمېر اوسیدونکیو اندېښنې خپرې کړي دي.
د دې لیکنې په یوه برخه کې راغلي دي، د هرات لرغوني ښار چې لوړې منارې او پراخ سړکونه لري او د افغانستان په جنوب کې سرحد ته نژدې پروت دی، په تیرو لسو کلونو کې ښایي د افغانستان تر بل هر ښار ښه وده کړي اوسي.
د نیویارک ټایمز د دې مقالې لیکوال وایي، په هرات ولایت کې په دې قوي باور شته چې که بهرني ځواکونه له افغانستان څخه ووځي او د بهرنیو مرستو پیسې ودرېږي، نو هغه سیمه چې کیدای شي د اقتصادي او امنیتي ګلوډیو سره مخ شي، هغه به د هرات ولایت وي.
د علي رضا په نوم یو سړي، چې د پخوانیو مجاهدینو څخه دی نیویارک ټایمز ته ویلي: جګړه به پیل شي.
علي رضا همدارنګه ویلي هرڅه به د ۱۹۹۰ م لسیزې د لومړیو کلونو په شان شي، هغه وخت چې جهادي تنظیمونه په خپلو کې په کورنیو جګړو اخته وو.
رضا وایي که چیرې ډیر بهرني ځواکونه په افغانستان کې پاتې شي بیا هیلمندي شته.
نیویارک ټایمز په خپله دې لیکنه کې لیکلي، سره له دې چې د هرات په ولسوالیو کې بریدونه کیږي خو طالبانو په هرات کې تر اوسه ځان ته د پښې د ایښود ځای نه دی جوړ کړی.
ورځپاڼه وایي، که څه هم په جګړو کې د هرات ډیره برخه نړیدلې خو د دې ښار شپږ سوه کلنې منارې لا هم ولاړې دي.
د هرات یو اوسیدونکي نیویارک ټایمز ته ویلي، دا زموږ د تاریخ پنځه ګوتې دي، او د مردکیو کومې نښې چې پر دې منارو لیدل کیږي زموږ د تاریخ نښې دي.
د اروپایي ټولنې د سوداګرۍ ویب پاڼې له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان او هندوستان ته د ګازو د پایپ لاین د پروژې یا (تاپي) په اړه یوه څېړنیزه لیکنه خپره کړې ده او په پیل کې یې وایي:
ددې اونۍ په سر کې په عشق اباد کې د ګازو او تیلو په کنفرانس کې د ترکمن چارواکو د هر فرصت څخه ګټه اخیسته څو ددې پروژې په اړه خبرې وکړي، خو دې په ورته یو بله پروژه کې یې د کسپین د سمندرګي له لارې اروپایي ټولنې ته ګاز انتقالوي لړه لیوالتیا ښودله.
په راپور کې د ترکمنستان د ولسمشر قربان قلي بیردي محمدوف له خولې ویل شوي چې له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې پاکستان او هندوستان ته د ګازو د پایپ لاین د پروژې عملي کیدل به د ترکمنستان د ګازو صادارت زیات کړي.
د اسیا پراختیایي بانک په ۲۰۰۸ م کال کې اټکل کړی و چې د پایپ لاین پر دې پروژه به لږ تر لږه اوه عشاریه شپږ ملیارده ډالره لګښت راشي. په دې پروژه کې شریکوال اوس باید ددې پایپ لاین د جوړولو او تمویل لپاره تجارتي شریکان ولټوي.
د اروپایي ټولنې د سوداګرۍ ویب پاڼې په دې راپور کې ویل شوي چې د امریکا متحده ایالات هم ددې پروژې ملاتړ کوي، ځکه امریکا سخته هڅه کوي چې ددې پروژې څخه ګټه اخیستونکي هیوادونه په سیمه د خپل دښمن هیواد ایران په انرژۍ تکیه ونه اوسي.
د جنوبي او مرکزي اسیا په چارو کې د امریکا د متحدو ایالتونو د بهرنیو چارو د وزارت مرستیالي لاین ترسي په عشق اباد کې دې کنفرانس ته وویل، که څه هم مخکې پرته لاره اوږده ده خو واشینګټن ددې پروژې په برخه کې تر اوسه د شوي پرمختګ هرکلی کوي.

د کابل او واشنګټن تر منځ...

د زندان افغاني کیدل دي.
د امریکا دولت څو میاشتې دمخه پریکړه وکړه چې د بګرام زندان ټولې چارې به افغان دولت ته سپاري خو اوس داسې ښکاري چې واشنګټن د ځینو ملحوظاتو له مخې نه یوازې دا چې دا کار نه دی کړی بلکې شپنې عملیات یې هم جاري ساتلي او په لسګونو نوي بندیان یې هم دغه زندان ته راوړي دي.
په کابل کې د امریکا د سفارت د چارواکو په خبره څه باندې یو سلو شل تنه تازه دمه بندیان یې د ملک له بیلا بیلو برخو تر نیول کیدو وروسته بګرام ته وړي دي.
په همدې حال کې د ناټو قوماندانۍ هم پر له پسې هر سهار د خپلو شپنیو عملیاتو په اړه رسنیو ته راپورونه استوي.
دغو ځواکونو لا هم شپني عملیات جاري ساتلي او د هیواد په بیلا بیلو برخو کې کله له افغان ځواکونو سره په ګډه او کله هم په مستقلانه ډول عملیات تر سره کوي چې ځیني کسان پکې نیول شوي چې د حقاني شبکې یو شمیر قوماندانانو څخه هم یادونه شوې ده.
شپني عملیات او د بګرام زندان د افغاني کیدو په اړه دوه هو کړې له امریکایي چارواکو سره شوي خو داسې ښکاري چې امریکا په خپلو دغو ژمنو ولاړه نه ده او د افغان حکومت خبرداری یې هم بابیزه ګڼلې دی.
تیره شپه ولسمشر کرزي د ملي امنیت شورا له مشر رنګین دادفر سپنتا او د ملي امنیت له ریس سره په یوه ناسته کې هغوی ته دنده سپارلې چې د امنیتي قرار داد پر سر خبرې د ده تر راتلونکي فیصلې وځنډوي.
ځکه امریکا خپلې ژمنې نه دي پلي کړي او باید له واشنګټن سره له سره خبري وشي.
د افغانستان او امریکا امنیتي قرار داد نه یوازې دا چې اوس له ستونزو سره مخ شوی بلکې د امریکایي ځواکونو د قضایي مصونیت مسله بله هغه ستونزه وه چې تر اوسه یې د دغه تړون د هو کړې لپاره د پرمختګ مخه ډب کړې وه.
د امریکا دولت تر اوسه پوري دا نه دي ویلي چې ولې یې د بګرام زندان چارې افغان دولت ته په بشپړه توګه نه دي سپارلي او لا هم ولې شپني عملیات جاري ساتي.
خو انګیرنه داسې ده چې امریکا د بګرام زندان بندیان ډیر خطرناک بولي او ویره لري چې که یې افغان دولت ته وسپاري نو ښایي د لوړ اداري فساد له امله حکومتي چارواکي زندانیان په یوه او بله پلمه خوشي کړي.

چهار شهید در هفتمین روز...

در جریان بمباران بیت لاهیا در شمال نوار غزه، یک فلسطینی به نام "اکرم معروف" و در جریان بمباران منطقه المغراقه در مرکز نوار غزه نیز "محمود الزهار" از شهروندان فلسطینی به شهادت رسیدند.
همچنین در بمباران دیگری در شمال نوار غزه "بلال البراوی" (۲۰ ساله) و "یحیی محمد عوض" (۱۵ ساله) شهید شدند.
صهیونیست ها همچنین با حمله به یک زمین خالی از سکنه در شرق البریج واقع در مرکز نوار غزه پنج کودک را زخمی کردند.
در همین راستا کمیته امداد غزه اعلام کرد که تعداد شهدای غزه از آغاز تهاجم رژیم صهیونیستی در روز چهارشنبه هفته گذشته تا کنون به ۱۱۳ نفر و تعداد زخمی ها نیز به بیش از ۸۸۵ نفر رسیده است. .

۳ میلیارده ډالره په جعلي...

کوم اسناد چې یې په مقابل کې وړاندې شوي، هغه د پوښتنې لاندې دي، دا ډیرې پیسې دي.
دوه ورځې مخکې مو بانکونو ته د څارنې اته تیمونه وګمارل څو هغه اسناد وپلټي چې د پوښتنې لاندې دي."
دلاوري وویل، دا اسعار چین، کوریا او د نړۍ یوشمېر نورو هیوادونو ته د دولتي او خصوصي بانکونو له لارې لیږدول شوي دي.
راپورونه دا هم وایي، په دې اسعارو تراوسه مالونه هم هیواد ته نه دي وارد شوي.
ښاغلی دلاوري د بانکونو نومونه وانه خیستل؛ خو ویې ویل، چې مساله یې جدي نیولې او په هربانک چې درغلي ثابتې شي، قانوني چلند به ورسره وشي:
"دا اسناد به وپلټو، له ګمرک له لارې ترهغه ځایه پورې چې دوی وایي؛ مالونه ترې اخلو.
موږ خپلو قونسلګریو او سفارتونو سره اړیکې ټینګوو، چې ترڅو مساله معلومه کړي.
هرسند چې جعلي ثابت شي، له عامل سره به یې قانوني چلند وشي. دې اسعارو ته موږ اړتیا لرو او څوک هڅه کوي، په درغلۍ یې وباسي دا یو ملي خیانت ګڼل کیږي."
په وروستیو شاوخوا دوه میاشتو کې د ډالرو پر وړاندې دافغانیو ارزښت مخ په کمېدو دی.
فغان صرافان وایي، له کومې ورځې چې د غربي هېوادونو له خوا پر ایران بندیزونه لګیدلي؛ ډالرو ته یې اړتیا زیاته شوې، د همدې له امله ځینو خلکو هڅې تیزې کړي؛ چې ډالر ایران ته ولیږدوي.
خو افغانستان بانک وایي، د اسعارو مارکیټ یې تر کنټرول لاندې دی او د ډالرو د بیې لوړېدل یوه موقتي پیښه ده.

ماموریت حربی فرانسه رسماً...

قوماندانان افغان و فرانسوی می گویند که وضعیت کاپیسا بهتر شده ولی در این رابطه معلومات دقیق نداده اند.
اما یک جنرال فرانسوی گفته است در اواخر او شاهد این نیست که مخالفین توانسته باشند، کدام منطقه را تحت کنترول بگیرند.
امنیت کاپیسا اکنون به ۴۷۰۰ پولیس و عسکر افغان داده می شود که به گفته قوماندان قوای فرانسه این عساکر توسط ۲۵۰ عسکر امریکایی حمایت خواهند شد.
قوماندانان فرانسوی در مورد ظرفیت و توانایی قوای افغان امیدوار هستند و به گفته آنها مخالفین نمی توانند قوای افغان را در اینجا با شکست رو به رو بسازند.
بعد از یک سلسله حملات کشنده بر قوای فرانسوی در سال های ۲۰۱۱ و ۲۰۱۲، فرانسه تصمیم گرفت که خروج عساکرش را از افغانستان سریع تر می سازد.
رییس جمهور سابق فرانسه نیکولا سرکوزی سال ۲۰۱۳ را تاریخ خروج قوای این کشور اعلان نمود اما رییس جمهور کنونی فرانسه فرانسوا اولاند این تاریخ را پیشتر آورده و در پایان سال ۲۰۱۲ تعیین کرد.
از ۲۲۰۰ عسکر فرانسوی که فعلاً در افغانستان هستند ۷۰۰ تن آنها در پایان سال جاری افغانستان را ترک می کنند. در حدود ۵۰ عسکر فرانسوی در ماموریت تعلیمی در وردک کار می کنند و ۱۵۰۰ آنها در کابل خواهند بود تا مرحلهء نهایی خروج سربازان فرانسوی را در افغانستان تکمیل کنند.
به گفته مقامات فرانسه، بعد از تابستان سال ۲۰۱۳ یک شمار محدود سربازان فرانسوی در افغانستان خواهند ماند که مشغول ماموریت تعلیم و تربیه خواهند بود.

محمد افضل خان لالا جمهور...

محمد افضل خان لالا د جمهور رئیس حامد کرزي د لیک په ځواب کې، له ده څخه د منني او قدرداني په ترڅ کې ویلي: تاسو چې په کوم اخلاص، پوهه او فراست د ترورېزم پر خلاف مبارزې ته متوجه شوي یاست، که د پاکستان جمهور رئیس آصف علي زرداري تاسو ته کلک لاس درکړي او د پاکستان او افغانستان ولسونه ستاسو شاته ودرېږي، کامیابي یقیني او لازمي ده.
د پښتنو ملي مشر د ترورېزم او افراطیت د له منځه وړلو لپاره د یوې ګډې غونډې وړاندیز کړی، ویلي یې دي چې که ستاسو دواړو په مشرۍ د ډیورنډ کرښې له دواړو خواوو څخه د ولسونو یوه ګډه غونډه جوړه شي، تر ډېره حده به ددې ستونزې مخه ونیول شي.
محمد افضل خان لالا جمهور رئیس حامد کرزي ته په خپل لیک کې زیاته کړې ده چې په ۲۰۰۷ میلادي کال کې ستاسو په مشرۍ او لارښوونه په کابل ښار کې یوه قامي جرګه جوړه شوه چې له ۱۸۹۳ کال وروسته یو مهم ګام و او دوهمه غونډه یې په اسلام آباد کې جوړېدونکې وه چې د پاکستان مشرانو لېوالتیا ونښوده.ده ټینګار کړی چې که ددغې جرګې بیا احیاء وشي، نو د مصیبتونو او ترورېزم د له منځه وړلو لپاره به ډېره مفیده واقع شي.

مشرانو جرگه طرح قانون...

فضل هادی مسلمیار رییس مشرانو جرگه به روز سه شنبه در جلسهء عمومی این جرگه اعلام کرد که آنها در این مسوده بعضی تغیرات را آورده اند.
آقای مسلمیار تصویب این طرح را چنین اعلام کرد:
"خارجی ها را کمسیون ما رد کرده است، کسانیکه آنها را رد می نمایند کارت سبز و کسانیکه تایید می نمایند موجودیت خارجی ها را کارت سرخ بلند نمایند، خارجی ها را بیرون کردیم، استقلال خود را گرفتیم."
مشرانو جرگه در چوکات قانون این را هم تایید کرد که اعضای کمسیون انتخابات به شمول سه خانم، ۹ تن باشند و برای مدت شش سال مشروعیت نیز داشته باشند.
آنها این مساله را نیز تصویب کردند که کمسیون سمع شکایات انتخاباتی پنج عضو داشته باشد و آن افراد باید از سوی رییس جمهور تعیین شوند. مشرانو جرگه کمسیون سمع شکایات انتخاباتی را نیز تصویب کرد.
ولسی جرگهء افغانستان قبلاً طرح قانون تشکیل و صلاحیت های کمسیون مستقل انتخابات را تصویب کرده است، اما در این زمینه اختلاف نظر میان ولسی جرگه و مشرانو جرگه وجود دارد.
ولسی جرگه حضور دو خارجی را در کمسیون سمع شکایات انتخاباتی پذیرفته است و همچنان کمیته گزینش اعضای کمسیون مستقل انتخابات و اعضای کمسیون سمع شکایات انتخاباتی را جهت انتخاب به رییس جمهور معرفی می نماید.
با وجود این مخالفت ها، سرنوشت قانون انتخابات چی خواهد شد در این مورد عبدالستار سعادت یک تن از کارشناسان مسایل حقوقی در صحبت با رادیو آزادی چنین می گوید:
"این مساله رفت به سوی تطبیق ماده صدم قانون اساسی، یعنی هیات مختلط باید تشکیل شود، مهم ترین مسایل که آنها روی آن بحث خواهند کرد حضور دو خارجی در کمسیون شکایات انتخاباتی به حیث عضو، مشرانو جرگه کمیته گزینش را نیز حذف کرده یعنی دست رییس جمهور را مانند گذشته باز مانده اند، من فکر می کنم که این مسایل اختلافی در کمیته هیات مختلط هم حل نخواهد شد و این دوباره به ولسی جرگه برود که به دو ثلث آن را تصویب نمایند اگر به دو ثلث هم تصویب شود، به نظر من مورد تایید رییس جمهور قرار نمی گیرد و مسیر تقنینی را که این قانون باید بپیماید در نهایت به بن بست مواجه می شود."
قبل از این، ولسی جرگه گفته بود که اعضای کمسیون مستقل انتخابات و کمسیون سمع شکایات انتخاباتی از سوی کمیته گزینش به رییس جمهور کرزی جهت انتخاب معرفی می گردد اما مشرانو جرگه می گوید که رییس جمهور کرزی در گزینش این اعضا دست باز دارد و به ایجاد این کمیته نیاز نیست.
در همین حال کمسیون مستقل انتخابات می گوید: اگر حکومت افغانستان طرح جدید کمسیون انتخابات را تصویب نکند آنها به اساس قانون نافذه قبلی انتخابات را برگزار می نمایند.

دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولې یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
شهادت اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله ګامه وال
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۶۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي . یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله
آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر سیلو ته مخامخ خوشحال خان مینه، کابل - افغانستان
Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com